افغانستان آزاد – آزاد افغانستان
AA-AA
چو کشور نباشد تن من مبـــــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم
afgazad@gmail.com		www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

ویکتور خارا
ژباړه: فرهاد ویاړ

# هر څوک هم رزمه، هم قهره، هم رنځه لري

هر څوک هم رزمه هم قهره هم رنځه لري

هر څوک هم بزمه، همه لاسی، هم گنجه لري

هغه چي له تا سره

له تا سره

هم رزمه دی

غواړي له تا سره پر غلیم بریالی شي

هغه چي له تا سره هم قهره دی

غواړي له تا سره فریاد کړي: مونږ پر حقه یو

هغه چي له تا سره هم رنځه دی

په دي پوهیږي چي څوک ستا رنځیدل غواړي

خو له هغه سره چي

هم بزمه نه یي

ستا د اولاد وینه ښبني

خو له هغه سره چي

هم لاسه نه یي

لینگته درکوي چي له پښو وغورځیږی

او په خپله لاسبری پاتی شي

خو له هغه سره چي

هم گنجه نه یي

وایي

ستا رنځ زما ګنج دی

ته که ستومانه ووسی

زه اباد یم

ته که پښي تړلي ووسی

زه آزادم

هغه چي ستا هم ګنجه دی

هغه چي ستا هم ګنجه دی

درنه پوښتنه کوي

ستا رنځ د چا ګنج به وي، بی له تا

زمونږه رنځ د چا ګنج به وي، بی له مونږه

ته به وسله جوړه کړی

جوړه به یي کړی

له غرور او کرکي

او خپل

همرزم

ته به ووایی

تل دي وي زمونږ رزم

سیځونکی دي وي زمونږ قهر

راتلونکي دي وي زمونږ ګنج